# د بهته خورانو پر ضد روان بريالي عمليات او د خوارج مخ پر زياتيدونكي ويره

په خيبر پښتونخوا کې د بهته خوارو په ضد د امنيتي ادارو کاميابو عملياتو د تحريک طالبان پاکستان مالي مشکلات لا پسې زيات کړي دي، په داسې حال کې چې خوارج اوس د خپلو کړنو د پټولو لپاره په پوليسو د بهتو اخيستلو کې ملوث کيدو الزامونه لګوي، وروسته له هغې چې عامو خلکو ته د دوي بدرنګه څيره په ډاګه شوي۔

په دې وروستيو وختو کې يو شمېر بهته اخيستونکي ترهګر د قانون منګولو ته راغلي او د هغوی غښې ډلې افشا شوي دي. نيول شوو تسهيل کوونکو په زړه پورې انکشافات کړي، چې جزيات يې په لاندې ډول دي:

- د نور ولي محسود په امر، د ټي ټي پي جبهې ترهګر د عامو خلکو په کورونو او دوکانونو چاپې وهي او د ويډيوګانو په جوړولو سره يې بليک ميل کوي۔
- د ټي ټي پي قوماندان خارجي عبدالرزاق، چې په افغانستان کې ناست دی، د افغانستان له تليفوني شمېرو څخه ګواښونکي زنګونه وهي۔
- د پيسو د نه ورکولو په صورت خلکو ته د تښتونې او مرګ ګواښونه کوی۔
- د ترهګر نور ولي محسود د بهتو اخيستلو کيسې د دې ډلې پخوانيو مشرانو هم کړی او د هغه په کتاب انقلاب محسود کې هم شته۔

ولس ته د دغو بهته خورو او اجرتي قاتلانو اصليت په ډاګه شوي. د پاکستان امنيتي ادارې د بهته خورو او ترهګرو په ضد په کلک ولاړې دي په داسې حال کې چې د خلکو د ژوند او مال د خونديتوب په برخه کې د خلکو همکاري ډېره مهمه ده۔